د مَدَني مرکزونو (فېضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 16 اکتوبر، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 4 جمادي الاول، کال 1448ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پۀ نوم

پۀ انبياؤ د اِعتماد نۀ کولو وبال

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- 70 کسان مړه شول او بيا راژوندي شول (واقعه)
- پۀ نبي باندې اِعتماد د اِيمان جان دے
- خِټه دروغژنه، قرآن رښتونے دے (واقعه)
- د عقل دائرۀ کار

پېشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بياناتِ دعوتِ اسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنّت اعتكاف نِيّت اوكړو)

د دُرُودِ پاک فضيلت

د اَربعينِ عطّار، قسط: 2، صفحه: 6، حديثِ پاک نمبر: 6 دے:

لَا وُضُوْءَ لِمَنْ لَّمْ يُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ترجمه: د هغه اودس نشته، چا چې پۀ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود وه نۀ لوستلو-

وضاحت: علامه عبد الروؤف مُناوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د هٰغه کس اودس د مکمل فضيلت والا نۀ دے،څوک چې د اودس نه پس پۀ نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرودِ پاک وه نۀ لولي-[1]

یہ وظیفہ ہے قوّتِ مومن — ہونے دے گا نہ خَم درود و سلام
طاعتیں سب اُسی سے ہیں مَقْبُول — طاعتوں میں اَتم درود و سلام
بلکہ یہ ہے مُتَمِّمُ الْاَعْمَال — ہر عمل میں اَہم درود سلام

وضاحت: مُتَمِّمُ الْاَعْمَال: يعني د اعمالو مکمل کوونکے-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ... تيسير شرح جامع صغير، جلد:2، صفحه:503 مفصلاً-

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰی فِی الْقُرْآنِ الْكَرِیْم (الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي):

وَ اِذْ قُلْتُمْ یٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً فَاَخَذَتْكُمُ الصّٰعِقَةُ وَ اَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۵۵﴾ ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۶﴾ (سپیارو: 1، البقرة: 55_ 56)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلم

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او یاد کړئ چې کله تاسو ووئیل: اے موسیٰ! مونږ به هیڅ کله پۀ تا یقین اونکړو تر څو پورې چې ښکاره خُدائے وه نۀ وینو نو تاسو [ناڅاپه] تندر ونیولئ او تاسو پخپله لیدل- بیا ستاسو د مرګ نه پس مونږه تاسو راژوندي کړئ چې تاسو شُکر ادا کړئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

70 کسان مړه شول او بیا راژوندي شول

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د الله پاک نبي، حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د تورات شریف اخستو د پاره کوهِ طُور ته تشریف یوړلو، شا ته بني اِسرائیلو د سخي عبادت شروع کړو، هغوئي واپس تشریف راوړلو، پۀ هغوئي باندې یې توبه وکړله، جُرم سخت وو، د توبې د تقاضې پوره کولو د پاره د بني اِسرائیلو 70 زره کسان ووژلے شول- د دې نه پس الله پاک حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام ته وفرمائیل: د بني اِسرائیلو 70 کسان وټاکئ! هغوئي د ځان سره کړئ او کوهِ طُور ته تشریف راوړئ! دوئي دې د الله پاک پۀ حُضُور کښې معذرت[بخښنه] وغواړي- دا د الله پاک د طرف نه ډېر لوئي کرم وو چې دوئي وو مجرمان، د دې باوجود پۀ دوئي باندې عذاب نازل نۀ کړے شو بلکې دوئي ته د توبې توفیق عطا کړے شو، بیا د بخښنې غوښتلو

اِجازت هم عطا کړے شو، دا 70 کسان هٰغه وو کوم چې د سخي پۀ عبادت کښې شریک شوي نۀ وو، هغوئي ته الله پاک پۀ خپل حُضُور کښې د حاضرۍ سعادت هم عطا کړو-

خو دا عجیبه خلق وو- جرم به یې اوکړو، الله پاک به اِنعام فرمائیلو، دوئي به د شُکر پۀ ځائے یو بل جُرم اوکړو- هٰغه وخت هم داسې معامله وشوه، دا 70 کسان کوهِ طُور ته راغلل چې د الله پاک پۀ حُضُور کښې بخښنه وغواړي خو دوئي څۀ اوکړل---؟ الله پاک فرمائي:

وَاِذْقُلْتُمْ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او یاد کړئ چې کله تاسو ووئیل-(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 55)

یعنې اے بنې اِسرائیلو! دا واقعه هم یاده کړئ چې ستاسو پۀ مشرانو کښې 70 کسان کوهِ طُور ته بللے شوي وو، هغوئي د الله پاک پۀ حُضُور کښې د بخښنې غوښتو، د شُکر ادا کولو پۀ ځائے اُلټا ګستاخي اوکړه، وه یې وئیل:

یٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: اے موسیٰ! مونږ به هیڅ کله پۀ تا یقین اونکړو تر څو پورې چې ښکاره خُدائے وه نۀ وینو- (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 55)

د هغوئي د دې ګستاخۍ هغوئي ته سزا مېلاؤ شوه چې

فَاَخَذَتْكُمُ الصّٰعِقَةُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۵۵﴾

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو تاسو [ناڅاپه] تندر ونیولئ او تاسو پخپله لیدل-

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 55)

یعني پۂ هٰغه 70 کسانو باندې د اسمان نه تندر راپرېوتو، پۂ لږ ساعت کښې دا 70 واړه پۂ نمبر نمبر مړه شول-

بیا چې کله دا 70 کسان مړه شول نو د حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام پۂ دوئي باندې رحم راغلو، هغوئي عرض اوکړو: اے الله پاکه! که دا 70 کسان دلته مړه شي نو زۂ به بني اِسرائیلو له څۂ جواب ورکووم؟ ځکه اے رحمان او رحیم ربه! رحم اوکړې، دوئي واپس راژوندي کړې- د حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام دا دُعا قبوله شوه- [1] الله پاک فرمائي:

ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۶﴾

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بیا ستاسو د مرګ نه پس مونږه تاسو راژوندي کړئ چې تاسو شُکر ادا کړئ- (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 56)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د الله پاک د قُرب لرونکو، د محبوب بندګانو د دُعا پۂ برکت مړي هم راژوندي کېږي-

(1): د الله پاک د دیدار شوق

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا قُرآني واقعه کومه چې پۂ دې آیتونو کښې بیان شوه، د دې نه مونږ ته دوه اهمې خبرې د زدکړې د پاره مېلاؤېږي: (1): د دې 70 کسانو غوښته، هغه څۂ وه؟ پۂ مونږ باندې د الله پاک دیدار اوکړئ (2): دوهم دے: د دې غوښتنې انداز- د څو پورې چې خبره د هغوئي د غوښتنې ده نو دا پۂ شرعي توګه غلطه نۂ وه- ځکه د الله

1... تفسیر بغوی، پارہ: 1، البقرۃ، زیرِ آیت: 55، جلد: 1، صفحہ: 51 و 52 خلاصۃً۔

پاک نبي، حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هم دا غوښتنه کړې وه، کله چې کوهِ طُور ته حاضر شو نو عرض يې اوکړو:

رَبِّ اَرِنِیْٓ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: اے زما ربه! ما ته خپله نظاره وښايه-(پاره:9، سورۀ الاعراف:143)

الله پاک وفرمائيل:

لَنْ تَرٰىنِیْ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو ته به ما [پۀ دُنيا کښې] کله هم وه نۀ ليدلے شې-

(پاره:9، سورۀ الاعراف:143)

معلومه شوه چې دا شوق چې زما د الله پاک ديدار نصيب شي، دا شوق ډېر ښه دے، پۀ حديثونو مبارکو کښې د دې فضيلت بيان شوے دے- محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ لِقَاءَ اللّٰہِ اَحَبَّ اللّٰہُ لِقَائَہٗ څوک چې د الله پاک سره ملاقات خوښوي، الله پاک د هغه سره ملاقات خوښوي- (1)

نېکان خلق د ديدار شوق لري

پۀ يو حديثِ قُدسي کښې دي: الله پاک فرمائي: فَطَالَ شَوْقُهُمْ اِلَیَّ لِقَائِیْ وَاِنِّیْ اِلَیْهِمْ لَاَشَدُّ شَوْقًا يعنې نېکان خلق زما سره د مېلاؤېدو ډېر شوق لري او زۀ د هغوئي د ملاقات د هغوئي نه زيات شوق لرم- (2)

1... بخاری، کتاب الرقاق، باب من احب لقاء الله ...الخ، صفحه:1598، حديث:6507-

2... حلية الاولياء، رقم:544، سهل بن عبد الله، جلد:10، صفحه:202، رقم:14924-

اللہ پاک خپل دیدار ورعطا کړو

حضرت بِشر حافي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډېر لوئي ولي اللہ تېر شوے دے، د هغوئي د وفات نه پس چا هغوئي پۂ خوب کښې ولیدو، پوښتنه يې ترېنه اوکړه: شېخ وَرَّاق او شېخ نَصر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهما پۂ څۂ حال کښې دي؟ وه يې فرمائيل: اللہ پاک هغوئي ته جنتي نِعمتونه عطا کړي دي، ښه پۂ خوند يې خوري او څښي- خوب ليدونکي ترېنه پوښتنه اوکړه: پۂ تاسو باندې څۂ کرم وشو؟ وه يې فرمائيل: اللہ پاک ته معلومه ده چې زۂ د خوراک څښاک رغبت نۂ لرم، ځکه اللہ پاک خپل دیدار راعطا کړو- [1]

اللہ پاک يې شوق پوره کړو

حضرت حارِث بن اَبُو اَوفیٰ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اللہ پاک نېک اِنسان تېر شوے دے، د هغوئي يو ګاؤنډي غېر مسلمه وو، يو ځل هغه ناروغه شو، هغوئي د هغه د تپوس د پاره لاړو او د اللہ پاک د رحمت پۂ يقين يې وفرمائيل: کلمه ووايه! زۂ ستا د پاره د جَنَّت ضمانت درکووم- غېر مسلمه ووئيل: د جَنَّت نه هم د اعلیٰ څيز ضمانت راکړئ! هغوئي بيا د اللہ پاک د رحمت پۂ يقين سره وفرمائيل: ټيک ده، کلمه ووايه! زۂ تا له د اللہ پاک د ديدار ضمانت درکووم- دا يې چې واورېدل نو هٰغه غېر مسلمه د اللہ پاک د ديدار پۂ شوق کښې کلمه ووئيله او مسلمان شو- خُدائے څۂ داسې اوکړل چې هغه هم پۂ هٰغه بيماریَ کښې مړ شو- د هغه د مرګ نه پس يوه ورځ حضرت حارث رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه پۂ خوب کښې وليدو، پوښتنه يې ترېنه اوکړه: څۂ درباندې تېر شول؟ وه يې وئيل: زما رُوح د اللہ پاک پۂ دربار کښې

1... انوار جمالِ مصطفےٰ، آدابِ تلاوتِ قرآن، صفحه: 331۔

حاضر کړے شو- الله پاک وفرمائيل: تا زما د ديدار پۀ شوق کښې کلمه وئيلې وه، فَلَكَ الرِّضَاءُ وَاللِّقَاءُ بس تا ته ماه رضا او ديدار دواړه عطا کولے شي- [1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا لويه نېکي ده- پۀ زړۀ کښې د الله پاک د ديدار شوق پکار دے- الله پاک دې رانصيب کړي-

آمدِ حشر سے اک عید ہے مشتاقوں کی | اسی پردے میں تو ہے جلوۂ زیبا تیرا [2]

وضاحت: د الله پاک د ديدار د شوق لرونکو د حشر د ورځې اِنتظار دے، دا دُنيا خو د الله پاک د ديدار نه پرده ده، د قيامت پۀ ورځ باندې خو به د ديدار دولت نصيب کېږي-

ضروري وضاحت

يو وضاحت اوکړم: پۀ دُنيا کښې پۀ غړېدلو سترګو د الله پاک ديدار کيدل پۀ شرعي توګه جائز نۀ دے- [3] صرف او صرف د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا مرتبه نصيب شوې، د هغوئ نه علاوه د بل چا نۀ شي نصيب کېدے- ځکه پۀ دُنيا کښې پۀ غړېدلو سترګو د الله پاک د ديدار مېلاؤېدو دُعا مونږ نۀ شو کولے- آؤ! پۀ زړۀ کښې د دې شوق ساتئ! څۀ پته لګي که پۀ خوب کښې مو دا سعادت نصيب شي، که دا هم وه نۀ شي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! پۀ جَنَّت کښې خو به د هر مسلمان دا سعادت نصيب کېږي- الله پاک دې مونږ له پۀ اِيمان باندې اِستقامت راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

---

1... نوادرُ القليوبي، صفحه:59-

2... ذوقِ نعت، صفحه:21-

3... دار الافتاء اہلسنت، ريفرينس نمبر: Nor:12987-

گدا بھی منتظر ہے خلد میں نیکوں کی دعوت کا
خُدادِن خیر سے لائے سخی کے گھر ضیافت کا[1]

وضاحت: پۀ جَنَّت کښې به د نېکانو خلقو دعوت کېږي، دا فقیر هم د هٰغې ورځې پۀ اِنتظار کښې دے، خُدائے دې ورځ پۀ خپر راولي چې د سخي آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ کور (یعنې جَنَّت) کښې مېلمستیا نصیب شي۔

(2): پۀ انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام باندې د اِعتماد نۀ کولو وبال

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د بني اِسرائیلو د هٰغه 70 کسانو دا غوښتنه پۀ شرعي توګه صحیح وه خو هغوئي چې پۀ کوم انداز کښې دا غوښتنه اوکړه، هٰغه انداز غلط وو۔ هغوئي څۀ ووئیل:

يٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: اے موسیٰ! مونږ به هیڅ کله پۀ تا اونکړو تر څو پورې چې ښکاره خُدائے وه نۀ وینو۔ (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 55)

یعنې اے موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام! تر څو پورې چې تاسو پۀ مونږ باندې د الله پاک دیدار اونکړئ، مونږ به پۀ تاسو هډو یقین نۀ کوو۔

یعنې هغوئي پۀ حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام باندې اِعتماد اونکړو [2] د هغوئي د خبرې منلو

1... حدائقِ بخشش، صفحہ:37۔

2... تفسیر نعیمی، پارہ:1، البقرۃ، زیرِ آیت:55، جلد:1، صفحہ:397 خلاصۃً۔

پۂ ځائے یـې پۂ خپلو سترګو د لیدلو خبره اوکړه، دا پۂ حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام باندې بد اِعتمادي وه، د کومې چې هغوئي ته سزا مېلاؤ شوه، هٰغه وخت د اسمان نه تندر راپرېوتو او دا ټول مړه شول-

معلومه شوه چې د نبي پۂ خُله باندې اِعتماد نۂ کول، ډېر لوئي جُرم دے، د کومې سزا چې ډېره سخته مېلاؤېږي-

پۂ نبي باندې اِعتماد د اِیمان جان دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ اَلْحَمْدُلِلّٰه! مسلمانان یو- د **مسلمان** معنیٰ درته پته ده چې څۂ ده؟ د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمان پۂ وړاندې سر ښکته کول- یعني ربښتونے پوخ مسلمان هغه وي، کوم چې د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمان پۂ مقابله کښې د خپل زړۂ، دماغو، سترګو، غوږونو وغېره نۂ اوري بلکې څۂ چې وفرمائیلے شي، هغه د زړۂ د تَل نه پۂ پټو سترګو مني- او دا چې کوم اِعتماد دے، یعني د نبي پۂ فرمان باندې پوخ یقین--!! دا د اِیمان جان دے- څوک چې د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۂ اِرشاداتو باندې بغېر د لیدلو اِیمان راوړي، د هغوئي پۂ باره کښې الله پاک فرمائي:

اَلَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: هٰغه خلق چې بے لیدلو اِیمان راوړي-(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 3)

د دې آیت لاندې د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: پۂ الله او پۂ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې اِعتماد د اِیمان حقیقت دے، د څیز پۂ لیدلو یا اوربدو باندې خو هر کس مني خو هٰغه څیز کوم چې د هغه نۂ پټ وي او

پۀ عقل کښې يې نۀ راځي، هغه صرف هم دې د پاره منل چې دا رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلے دے، دا د دې خبرې دليل دے چې د هغه پۀ زړۀ کښې اِطاعت دے- **نور فرمائي:** که رښتيا خبره اوکړم نو د اِيمان جان خو دا دے چې د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خبر باندې د خپلو حواسو (سترګو، غوږونو او عقل وغيره) نه زيات اِعتماد وي، که چرې مونږ پۀ سترګو باندې وينو چې دا وخت ورځ ده او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائي چې دا وخت شپه ده نو زمونږه سترګې دروغژنې دي او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے دے ځکه چې زمونږه سترګې پۀ زړګونو کرته غلطي کوي خو د هغوئ فرمان چرې هم غلط نۀ وي- (1)

شاہانِ جہاں کیونکر رکھیں نہ سر آنکھوں پر
فرمانِ الٰہی ہے فرمان مُحَمَّد کا
حُور و مَلک و غِلْماں جن و بَشر و حَیْواں
لیتے ہیں سبھی سَر پر فَرْمان مُحَمَّد کا (2)

د چپلي ښپې

حضرت ابو عُبَيد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے، يو ځل هغوئ رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له د ډوډۍ دعوت ورکړو، د چپلي غوښه يې پخه کړه- چې خوراک شروع کړے شو نو د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: نَاوِلْنِيْ ذِرَاعَهَا ما له د دې

1... تفسير نعيمي، پاره:1، البقرة، زيرِ آيت:3، جلد:1، صفحه:128 ملتقطاً۔
2... قبالۀ بخشش، صفحه:74۔

مخکښې ښپه راکړئ! د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخکښې ښپې غوښه خوښه وه- حضرت اُبُو عبيد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مخکښې [ښپې غوښه] پيش کړله- لږ وخت پس بيا خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: نَاوِلْنِیْ ذِرَاعَهَا ما له مخکښې راکړئ- اُبو عبيد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دويمه مخکښې ښپه هم ورکړه- نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا وفرمائيل: نَاوِلْنِیْ ذِرَاعَهَا ما له مخکښې راکړئ نو حضرت ابو عبيد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د چپلې مخکښې ښپې څو وي؟ (يعني د يوې چپلې مخکښې ښپې هم دوه وي او دواړه ما پيش کړې دي)- پۀ دې باندې رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: **پۀ هٰغه ذات باندې دې قَسم وي د چا پۀ قبضه کښې چې زما ځان دے! که تۀ خاموشه پاتې شوے وے نو تر څو پورې چې ما غوښتلے، تا به د چپلې مخکښې ښپې ما له راکولے، د چپلې مخکښې ښپې به چرې هم نۀ وے ختمې شوے۔** (1)

دلته وګورئ چې د صحابئ رسول رَضِیَ اللهُ عَنْهُ څومره ښکلے تربيت شوے دے- د چپلې مخکښې ښپې دوه وي، دا خبره بالکل واضحه ده، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا هم معلومه وه، صحابئ رسول رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته هم معلومه وه خو رسولِ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تربيت وفرمائيلو چې پۀ سترګو ليدونکي حقيقت پسې مۀ ځئ! زما پۀ فرمان باندې بنياد کېږدئ! کۀ نن تا زما پۀ فرمان باندې سترګې پټې کړې وے نو ما به غوښتلے او تا به راکولے، د چپلې ښپې به چرې هم ختمې شوے نۀ وې-

معلومه شوه چې زمونږه سترګې څۀ ويني، که د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان د هغې

1... سنن دارمی، مقدمه، باب ما اکرم به...الخ، صفحه:40، حدیث:45۔

اُلټا هم وي نو زمونږ ستر کې دروغژني دي او د الله پاک او د هغه د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان رښتيا دے۔

د حضرت خزېمه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بے مثاله ګواهي

پۀ حديثِ پاک کښې دي: د دواړو جهانو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عربو د يو کلي وال ګس نه اَس واخستو، هغه سودا اوکړه او د خپلې خبرې نه پشا شو او ګواه يې وغوښتو، کوم مسلمان چې به راتللو نو هغه به هغه کلي وال ګس ته ردې بدې وئيلې چې ستا د پاره دې خرابې وي، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د حق نه علاوه څۀ فرمائي (خو ګواهي څوک نۀ ورکوي ځکه چې د چا پۀ مخکښې واقعه نۀ وه شوې) پۀ دې کښې حضرت خُزَېمه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دربار رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو چې خبرې يې واورېدلې نو وه يې وئيل: زۀ ګواهي ورکووم چې تا پۀ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې اَس خرڅ کړے دے۔

نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: تۀ خو پۀ موقع باندې هډو موجود نۀ وې نو بيا تا څنګه ګواهي ورکړله؟ عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زۀ ستاسو پۀ تصديق سره ګواهي ورکووم او پۀ **بَل روايت کښې دي** چې ما د حُضُورِ اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ راوړے شوي دِين باندې اِيمان راوړے دے او يقين مې دے چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به صرف حق فرمائي، زۀ د اسمان او زمکې پۀ خبرونو باندې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تصديق کووم نو آيا د دې کلي وال ګس پۀ مقابله کښې به تصديق نۀ کووم- د دې پۀ اِنعام کښې حُضُورِ اَقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم همېشه د پاره د هغوئ ګواهي د دوو نارينۀ د ګواهۍ برابر وګرځوله او اِرشاد يې وفرمائيلو: خُزَېمه چې د چا د نفعې که د نقصان ګواهي ورکوي

يواځې د دوئ ګواهي کافي ده۔ [1]

خِپټه دروغژنه ده، قرآن رښتونے دے

پۀ بُخاري شريف کښې روايت دے، يو ځل يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دربار رسالت ته حاضر شو، عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زما د ورور خِپټه خرابه ده (يعني هغه له دستونه ورځي)۔ [2]

سُبْحٰنَ اللّٰہ! د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم انداز ته وګورئ! خِپټه يې خرابه ده، دستونه يې دي نو ډاکټر له تلل پکار دي خو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ته معلومه وه چې د ټولو طبيبانو طبيب هُم د الله پاک حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے، څوک چې زړونو ته د بدو عادتونو نه شفا ورکولے شي نو د ظاهري بيمارو نه هم نجات ورکولے شي۔

مریضانِ جہاں کو تُم شفا دیتے ہو دَم بھر میں

خُدارا دَرد کا ہو میرے دَرماں یارَسُوْلَ اللہ ! [3]

خبر! هغه صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خپل ورور د بيماری پۀ باره کښې عرض اوکړو، محبوبِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: پۀ هغه باندې شات وخوره! هغه واپس لاړو، خپل ورور له يې شات ورکړل۔ بيا مسئله د حل کېدو پۀ ځائے نوره هم زياته شوه، يعني د مخکښې نه زيات دستونه شروع شول۔ بيا حاضر شو، خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيا وفرمائيل: پۀ هغه باندې

1... ابو داؤد، کتاب الاقضية، باب اذا علم الحاکم صدق...الخ، صفحه:572، حديث:3607 مفصلًا۔

2... بخاری، کتاب الطب، باب الدواء بالعسل، صفحه:1441، حديث:5684۔

3... قبالۀ بخشش، صفحه:226۔

شات وخوره! واپس لاړو، بيا يې پرې شات وخوړل- مسئله نوره هم زياته شوه- پۀ درېم ځل حاضر شو، خواست يې اوکړو، بيا هم دغه ارشاد وشو، واپس لاړو، نور شات يې پرې وخوړل- مسئله نوره هم زياته شوه- پۀ څلورم ځل حاضر شو، خواست يې اوکړو، وه يې فرمائيل: الله پاک رښتونے دے، ستا د ورور خِبټه دروغژنه ده (يعنې ما ته ستا د ورور د بيماری پۀ باره کښې الله پاک دا فرمائيلي دي چې د هغه عِلاج پۀ شاتو کښې دے، که پۀ شاتو خوړلو باندې بيماري نۀ ښه کېږي نو بيا هم د الله پاک فرمان رښتونے دے، قصور ستا د ورور د خِبټې دے)، دا ځل بيا لاړ شه! پۀ هغه باندې شات وخوره! دا ځل چې هُغه صحابي واپس لاړو، شات يې پرې وخوړل نو د هغه ارام نصيب شو- [1]

اوس دلته وګورئ چې يو خو د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بے مثله او بے مثاله اِيمان دے چې الله پاک د وحي وغېره پۀ ذريعه باندې دا فرمائيلي چې د دې بيماری علاج به پۀ شاتو باندې کېږي خو درې ځل د شاتو خوړلو باوجود عِلاج وه نۀ شو، محبوبِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دې باندې څۀ وفرمائيل: الله پاک رښتونے دے، ستا د ورور خِبټه دروغژنه ده- [2]

معلومه شوه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سيرت هم دغه دَرس دے چې زمونږه سترګو ليدلې خبره غلطه هم کېدے شي خو د الله پاک فرمان غلط نشي کېدے-

بيا د هُغه صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د اِيمان نه قربان شم! مونږ چې يو ځل ډاکټر له لاړ شو، ښه نه شو نو بيا لاړ شو، ډاکټر راته دوائي بدله کړي، څۀ طمع مو پېدا شي چې د دوايې

1... بخاری، کتاب الطب، باب الدواء بالعسل، صفحه:1441، حدیث:5684 مفصلًا۔

2... مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحه:218۔

سره به مو ارام نصيب شي، که د هغې سره هم ښه نۀ شو نو مونږه هُم ډاکټر بدل کړو- د هٰغه صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ اِيمان ته وګورئ چې د دوايي سره ښه خو نۀ شو بلکې مرض نور هم زيات شو، بيا حاضر شو، بيا هم هٰغه دوائي مېلاؤ شوه، مرض نور هم زيات شو، بيا حاضر شو، دوائي هم هٰغه ورکړے شوه، بيا بيا چکرې لګېدلې، نۀ دوائي بدلېدله، نۀ ښه کېدلو، د دې باوجود بد ګمانه نۀ شو، د دومره چکرو وهلو باوجود يې اِعتماد خراب نۀ شو چې ښه کېږم نو هم د دې پاک دَر نه به ښه کېږم- اِيمان هم داسې پکار دے- څۀ چې محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائي، بيا که دُنيا د يو ځائے نه بَل ځائے ته شي، د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمان نه زمونږه اِيمان اوړېدل نۀ دي پکار-

سچی بات سِکھاتے یہ ہیں	سِیدھی رَاہ دِکھاتے یہ ہیں
ٹُوٹی آسیں بَندھاتے یہ ہیں	چُھوٹی نَبضیں چلاتے یہ ہیں
دَافِع یعنی حَافِظ و حَامی	دَفع بَلا فَرماتے یہ ہیں
اِن کا حُکم جہاں میں نافِذ	قبضہ کُل پہ رَکھاتے یہ ہیں

وضاحت: دا خبره همېشه ياده ساتئ چې پۀ حديثونو مبارکو کښې ښودلے شوے عِلاج هم د تجربه کار طبيب د مشورې مطابق کول پۀ کار دي ځکه چې د هر چا طبيعت او کيفيت يو شان نۀ وي، ډېر ځل داسې کېږي چې يو څيز د چا د پاره فائده مند وي او د بل د پاره د نقصان وي-

د قيامت پۀ ورځ د اَهلِ فَترت حال

د اِنسانانو يوه طبقه ده، کومو ته چې اَهلِ فَترت وئيلے شي- د دې نه مُراد هٰغه خلق دي کومو

ته چې د يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام هم تبليغ نه وي رسېدلے- [1] لکه څنګه چې د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام اسمان ته د تشريف وړلو نه پس د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشريف راوړو نه لګ مخکښې زماني ته زمانه فترت وئيلے کېږي او د دې زماني خلقو ته **اصحابِ فترت** وئيلے کېږي- [2] د قيامت پۀ ورځ باندې به د دوئي حشر څنګه وي؟ آيا دوئي به جنَّت ته ځي که د دوزخ حق دار به جوړېږي، **پۀ دې باره کښې پۀ روايتونو کښې دي:** د قيامت پۀ ورځ باندې به دا خلق راجمع کړے شي، الله پاک به فرمائي: تاسو ټول دوزخ ته لاړ شئ---!!

دا حکم چې واوري نو دوئي به دوه ډلې شي، يوه ډله چې څنګه حکم واوري نو د دوزخ طرف ته به منډې کړي، دويمه ډله به د عقل نه کار واخلي او وه به وائي: اے الله پاکه! مونږ پۀ کوم جرم کښې دوزخ ته لاړ شو، مونږ ته خو ستا دِين هډو رارسېدلے نۀ دے-

بيا به هٰغه خلق کومو چې د حُکم اورېدو سره د دوزخ طرف ته منډې کړې وې، هغوئي به واپس راوغوښتلے شي، وه به وئيلے شي: لکه څنګه چې نن تاسو حکم اومنو، که داسې پۀ دُنيا کښې تاسو ته دِين در رسېدلو نو تاسو به منلو- ځکه تاسو د جنَّت حق دار يئ- نور خلق چې به د الله پاک د حکم پۀ مقابله کښې د خپل عقل نه کار اخلي، هغوئي ته به وفرمائيلے شي: تاسو چې څنګه نن حکم وه نۀ منلو، دُنيا کښې که دِين در رسېدلو نو تاسو به بيا هم نۀ منلو، ځکه تاسو د دوزخ حق دار يئ- [3]

معلومه شوه چې اصلي امتحان هم دا دے چې څوک د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

1... فتاوىٰ رضويه، جلد:28، صفحه:438-

2... تفسيرِ نعيمى، پاره:6، سورۂ مائده، زيرِ آيت:19، جلد:6، صفحه:327-

3... مسالک الحنفا فی والدی المصطفیٰ، صفحه:13 خلاصةً-

حکم پۀ چپه خُله او بغېر د لیدلو نه مني او څوک چې د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حکم پۀ مقابله کښې د خپل عقل نه کار اخلي- ځکه د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ فرمان باندې د زړۀ د اِخلاصه یقین ساتئ! که پۀ یوه خبره باندې مونږه پوهېږو نو مونږ له د الله پاک شُکر ادا کول پکار دي، که مونږ پرې نۀ پوهېږو نو زمونږه پوهه کمه ده، د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان زمونږ د عقل نه ډېر لوړ دے، هغه اومنئ!

د عقل پرستیِ فتنه

نن سبا چې چرته ډېرې زیاتې فتنې خوریږي، پۀ هغې کښې یوه فتنه ریشنل اِزم (***Rationalism***) یعنې د عقل پرستی) فتنه هم ده- هسې خو دا ډېره پخوانیِ فلسفه ده- کېدے شي چې ډېر خلق د دې فلسفې نه خبر نۀ وي خو اوس د دې اثرات ډېر عام کېږي روان دي، چا ته چې ګوري نو د خپل عقل خبره کوي، د دِیني احکامو پۀ مقابله کښې د خپلې پوهې خبره کېږي ❁ څوک د سُود پۀ حرامېدو نۀ پوهېږي ❁ څوک وائي چې اِسلام د پردې حُکم ولې اوکړو؟ ❁ څوک وائي چې پۀ وراثت کښې د زنانه نیمه حصه ولې ده؟ ❁ بعضې نادانه زنانه ګیله کوي چې نارینۀ ته حاکمیت ولې ورکړے شوے دے؟ ❁ نارینه ته چې د څلورو ودونو کولو اجازت دے نو زنانه ته ولې نشته؟ ❁ پۀ زنانۀ باندې اِسلام بندېزونه ولې لګولي دي؟ وغېره وغېره ډېرې دِیني مسئلې دي، پۀ کومو باندې چې خلق نۀ پوهېږي، چې کله پرې پوهه شي نو پۀ هغې باندې عمل نۀ کوي بلکې بعضې نادانه خو ضِد او انا شروع کړي، د دې نه د اِنکار طرف ته هم ځي- الله پاک دې مونږه د داسې نادانیِ نه محفوظ کړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

د عِلم د حاصلولو درې ذریعې

وګورئ چې د څۂ څیز د عِلم راتللو د پاره درې ذریعې وي: (1): یوه ذریعه ده زمونږه حوّاس یعنې سترګې، غوږونه وغیره، ډیر څیزونه مونږ د لیدلو سره پیژنو، لاندې زمکه ده، بره اسمان دے، پۂ اسمان کښې ستوري ځلیږي- مونږه پۂ سترګو باندې ولیدل او وه مو پیژندل، د دومره معلوماتو د پاره مونږ ته د هیڅ زده کولو لوستلو ضرورت نۂ وي (2): د عِلم راتللو دوېمه ذریعه زمونږه عقل دے- ډیر علوم هٰغه دي کوم چې مونږه د سترګو او غوږونو وغیره پۂ ذریعه نشو زده کولے، دې د پاره مونږ ته د خپل عقل د استعمالولو ضرورت وي، لکه ❁ ریاضي ده ❁ سائنس دے ❁ فزکس ❁ کمیسټري وغیره، هٰغه علوم د کومو د زده کولو د پاره چې مونږ له سکول ته تلل پکار دي (3): د عِلم دریمه ذریعه وحي ده- زمونږه ❁ هٰغه معاملې ❁ هٰغه مسئلې ❁ هٰغه مشکل ات کوم چې مونږ د عقل پۂ ذریعه باندې نشو حل کولے، د هٰغه خبرو ښودلو د پاره الله پاک انبیائے کرام علَیهِمُ السَّلام راولېږل، پۂ هغوئ باندې یې وحي نازله کړه او مونږ ته یې د دِین عِلم راورسولو- معلومه شوه چې د وَحي او د دِین خبرې د هٰغه ځائے نه شروع کېږي، چرته چې عقل رسیدل ختمېږي- چې د دِین درجه هٰغه ده چرته چې عقل هډو رسېدے نۂ شي نو پخپله سوچ اوکړئ چې مونږه دِین پۂ خپل عقل باندې څنګه تَلَلے شو؟

د عقل دائرۂ کار

یو تاریخ دان د دې ډېر ښکلے مثال ورکړے دے، لیکې یې دي چې د عقل مثال د زرګر د تَلې پۂ شان دے- د زرګر تَله ډېره د کمال وي، دا صِرف ګرام نۂ بلکې رَتی او ماسه هم

ښائي خو پۂ دې تَله باندې مونږه غر نشو تَلَلے، که غټ شان کانے پۂ دې وړه شان تَله باندې کېږدو نو تَله به ماته شي- داسې د دِين مثال هم د غر پۂ شان دے، د عقل مثال د دغه وړې شان تَلې پۂ شان دے- مونږه دِيني احکام او مسئلې پۂ خپل عقل باندې نشو تَلَلے، که د وَحي پۂ دائره کښې عقل استعمال کړو نو بے لارې به شو- لهٰذا چې د دِيني احکامو او مسئلو پۂ کومو حِکمتونو باندې پوهېږو نو پۂ هغې باندې د الله پاک شُکر ادا کړو! که نۂ پرې پوهېږو نو دا اومنو چې زمونږه پوهه کمه ده، د الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشادات زمونږه د پوهې نه ډېر اوچت دي- (1)

گزر جا عقل سے آگے کہ یہ نور | چراغِ راہ ہے منزل نہیں ہے

وضاحت: کله چې د دِين او د شريعت خبره راشي نو د عقل نۂ بلکې د دِين خبره به منل وي چې د الله پاک دا تحفه منزل ته د رسېدو د پاره يوه آله ده نۂ چې منزل، منزل خو د الله پاک او د هغه د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خبرې پۂ منلو پۂ اخرت کښې کاميابي ده-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ❁ عقل مند کېدل ❁ د الله پاک پۂ قدرت او دِيني معاملو کښې غور او فِکر کول، ښه خبره ده، اِسلام د دې اهميت بيانوي هم، البته داسې عقل ❁ کوم چې د الله پاک او د هغه د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمان خِلاف وي ❁ د کوم پۂ وجه چې اِنسان د دِينِ اِسلام پۂ حُکمونو باندې اِعتراضونه کوي ❁ د شريعت د حُکمونو پۂ مقابله کښې خپل عقل اِستعمال کړي، داسې عقل، عقل مندي نۂ بلکې عقل پرستي ده-

---

1 ... مقدمة ابن خلدون، الفصل السادس من الكتاب، الفصل العاشر فی علم الكلام، صفحه: 425 خلاصةً۔

اِعتماد خو به کول وي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ دې دُنيا کښې خو مونږ له پۀ چا نا چا باندې اِعتماد خو کول دي- وګورئ چې زۀ يو مثال عرض کووم: پۀ دې دُنيا کښې د اِنسان شروع څنګه وشوه، پۀ دې باره کښې يوه نظريه ډاروِن ورکړه چې اِنسان وړومبے شادو وو، بيا تر اوسه پۀ ترقي کولو کولو اِنسان جوړ شو- څومره چې هم غېر مسلمه دي، عقل پرست دي، د کومو چې دعوىٰ ده چې هم عقل هر څۀ دي، مونږ هم پۀ خپل عقل باندې ټولې مسئلې حل کولے شو، زمونږ دِين ته ضرورت نشته، دا بے عقله د ډاروِن پۀ دې خبره باندې يقين کوي- دا ډاروِن څوک وو؟ يو غېر مسلمه وو او قرآنِ پاک غېر مسلمه ته د ځناور نه بد تره وئيلے دے- بل طرف ته د قرآن او حديث ارشادات دي چې د اِنسان شروع د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه وشوه، حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام الله پاک پۀ خپل قُدرت باندې پيدا کړو- دا خبره مونږ ته چا اوکړه ❁ محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ❁ هٰغې هستۍ کومې چې ګوته پورته کړي نو سپوږمۍ دوه ټوټې شي ❁ چې اِشاره اوکړي نو پرېوتے نمر راواپس شي ❁ د چا پۀ حُضُور کښې چې ځناور سجدې کوي ❁ ونې چې د چا سلامۍ ته راټيټيږي ❁ کانې چې د چا کلمه وائي- مونږ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د داسې کمالي رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خبره باندې اِعتماد کوو- نصيب خپل خپل دے، د چا نا چا پۀ خبره باندې خو به اِعتماد کول وي- د دې خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِرشاداتو نه چې ووځي نو د غېر مسلمو بے بنياده خبرې او دوکه به درته منل وي- ځکه اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

دِل کو جو عقل دے خُدا، تيری گلی سے جائے کيوں[1]

1... حدائقِ بخشش، صفحه:94۔

او اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ نور فرمائي:

وہ کہ اِس دَرْ کا ہُوا، خَلْقِ خُدا اُس کی ہوئی

وہ کہ اِس دَرْ سے پِھرا، اللہ اُس سے پِھر گیا(1)

ځکه د اخوا دېخوا ډغرو خوړلو نه بهتر ده بلکې لازمي او ضروري دا دي چې مونږ د محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرامین د زړۀ او ذِهن نه اومنو- بنیاد پۀ عقل باندې نۀ بلکې بنیاد پۀ عشق باندې وساتو-

عقل کو تنقید سے فُرصَت نہیں | عشق پر اَعمال کی بنیاد رکھ

پۀ پنجابۍ کښې وئیلے کېږي:

عِشْق دِے جَھلّے اِیْ نَمْبَرْ لَے گئے

عَقْل مَنْدَاں اَیْوِیں عُمْراں گَالِیَاں

حضرت بِلال رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عاشقِ رسول وو، د قیامته پورې د راتلونکو سردار جوړ شو، ابو جهل او ابو لـهب وغېره د خپل عقل پۀ غرور کښې وو، ذلیله او خوار شول- ځکه

عشق پر اَعْمال کی بنیاد رکھ

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِیْنْ بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ-

---

1... حدائقِ بخشش، صفحه:52۔

فتاوىٰ رضويه موبائل ايپلي کښن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي I.T ډيپارټمنټ يو ډېر ښکلے موبائل ايپلي کښن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: فتاوىٰ رضويه (Fatawa Razwia) ❁ پۀ دې ايپلي کښن کښې د فتاوىٰ رضويه ټول جلدونه شامل دي او د هر جلد نه لاندې د رسالو او موضوعاتو مختصر فهرست هم شامل کړے شوے دے ❁ د فتاوىٰ رضويه ټولې رسالې (کومې چې د اعلیٰ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه د پوښتلے شوو سوالونو پۀ جوابونو کښې ليکلے شوې وې د هغې) بېل فهرست هم موجود دے ❁ پۀ ايپلي کښن کښې ډېر ښکلے فيچر د ايډوانس سرچ (Advanced Search) دے، د کوم پۀ ذريعه چې د خپلې خوښې خبره پۀ اسانۍ سره سرچ کېدے شي، پۀ يو خاص جلد يا خاص رساله کښې هم د سرچ کولو سهولت موجود دے ❁ پۀ جلد منتخب کولو پۀ هغې کښې د خپلې خوښې صفحې (Page) ته تللے شئ ❁ د لفظونو فونټ سائز (Font Size) هم پۀ خپله خوښه ايډجسټ کولے شئ ❁ پۀ ايپلي کښن کښې د خپلې خوښې خبره پۀ نوټس (Notes) فيچر کښې ليکلے او محفوظ کولے او د خوښې (Favorites) پۀ لسټ کښې يې شاملولے او شېئر (Share) کولے هم شئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

مسئله: آن لائن يا پۀ موبائل فون باندې نِکاح جائز نۀ ده-

وضاحت: نن سبا دا مسئله ډېره عامه ده چې بعضې وخت د وادۀ هلک پۀ بل ملک کښې وي، ناوې پۀ يو بل ملک کښې وي، د کور والو دا ذِهن وي چې راځئ پۀ موبائل يا د انټرنيټ وغيره پۀ ذريعه د وېډيو کال پۀ اخستو نِکاح کوو- ياد ساتئ چې داسې نِکاح نۀ کېږي- د نِکاح صحيح کېدو د پاره شريعت ډېر شرطونه ايښودي دي- پۀ دې کښې يو شرط دا دے چې د وادۀ ځلمے او ناوې دواړه پۀ يو مجلس کښې وي- د موبائل وغيره پۀ ذريعه چې کومه نِکاح کېږي، پۀ هغې کښې د وادۀ ځلمے او ناوې پۀ يو مجلس کښې نۀ وي، ځکه داسې هډو نِکاح نۀ کېږي-[1] مسئله ډېره اهمه ده او د نِکاح او طلاق پۀ مسئلو کښې ډېرې باريکۍ هم وي، ځکه چې کله هم داسې موقع وي، داسې څۀ حالت جوړ شي چې د وادۀ ځلمے او ناوې پۀ يو ځائے کښې موجود نۀ وي، بيا هم د هغوئ نِکاح کول وي نو د دار الافتاء اهلِ سُنَّت سره رابطه اوکړئ او د دې د صحيح مسئلې پوښتنه اوکړئ نو بيا څۀ ګام پورته کړئ! بعضې وخت يوه معمولي شان غلطي د ټول عمر د پاره د ګناهونو دروازه کولاؤ کړي-

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو

---

1 ... رد المحتار على الدر مختار، كتاب النكاح، مطلب التزوج بارسال كتاب، جلد:4، صفحه:86 ملتقطًا۔

توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بِسمِ اللّٰه شريف برکتونه (وظيفه)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

څوک چې بے ناغې د 7 ورځو پورې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم 786 کرته (پۀ اول او پۀ اخره کښې د يو يو ځل درودِ پاک سره) لولي اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِيم! د هغه هر حاجت به پوره کېږي-[1] الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... فيضان سنّت، فيضان بسم الله، صفحه:134۔